مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۳/۲۲

# نوی کال، زاړه رنځونه

دا دی پېرۍ واوښتي

دا دی بل کال راروان

خلک خوښي کوي، اتڼ کاندي او ناځي ورته

باید هر څه نوي شي

خوراک، څښاک، جامې او فکر

خو زموږ خلک او وطن لکه غر

دا دی ځلوېښت کاله پر یو ځای ولاړ

د وړاندې تګ او خوښۍ څرک نه لګي

خپل نوي کال، نوي میلمه ته حیران

خپلو زړو ته لاس تر زنې ګریان

چې د رنځو علاج یې څنګه وکړي

۲۰۲۰/۰۳/۱۹
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ